سلطان جان کلیوال


۲۰۲۱/۰۱/۰۴

# هـو ګـرانـه وطـنــــه!

هـو ګرانـه وطنـه، ته مو سـا یی ته مو ځان یی
ته زمونږه مـور، زمونږه کـور افغانسـتان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګرانه وطـنـه!!

سـتا کانـي مو زړونه، سـتا اوبه زمونږه وینه ده
سـتا په شـنو درو کـی، غـزیدلی زمونږ وینـه ده
ته زمونږ عزت، زمونږ هویت زمونږ ایمان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

تاکی چی اوسـیږی، ټول قومونه سره ورونه دي
ته د ټولـو باغ یـی، دا قـومـونه سـتا ګلـونه دي
ته زمونږ جنت، په دی نـړی په دی جـهـان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

ته مـونږ ته را پاتی، له پلـرونـو له نیکـونو یی
ته کلـکه مورچـه، د زمانـې د تاریخـونو یـی
ته هـر یـو زورګیر ته، لـکه تنـدر د آسـمان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

تیار دی هـر بچی، د هـر دښـمن مقـابـلي ته دی
ته ورته قبـلـه یی، مـخ د ټـولو، دی قـبلی ته دی
ته کـور د انسـان، د مسـلـمان او د افـغان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

دسمبر/۲۲/۲۰۲۰




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ